چا چې د يو ښه کار لارښوونه وکړه، هغه لره د هغه کار د تر سره کوونکي په څېر اجر دی

له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو سړی راغی، ويې ويل: (زما سپرلۍ مړه شوه او زه په لاره کې پاتې يم) نو ما په يوه سپرلۍ سپور کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: «زه يې نه لرم»، نو يو سړي وويل: اې د الله جل جلاله رسوله! زه به يو څوک وروښايم هغه به يې سپور کړي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: « چا چې د يو ښه کار لارښوونه وکړه، هغه لره د هغه کار د تر سره کوونکي په څېر اجر دی».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو سړی راغی او ورته ويې ويل: زما سپرلۍ مړه شوې ده، نو ما په يوه څاروي سپور کړه او ماته يوه سپرلۍ راکړه چې ومې رسوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغه څخه وښښنه وغوښته څکه چې هغه د هغه د سپرولو لپاره هېڅ شی نه درلود، نو يو سړی چې هلته حاضر و وويل: اې د الله رسوله! زه به يو څوک وروښايم چې سپور يې کړي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې هغه د سپرلۍ د خاوند سره په ثواب کې شريک دی، څکه چې اړمن ته يې د هغه لارښوونه وکړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5354